# د جرمني ژبي
# د تورو وینگ

## Die Aussprache der deutschen Buchstaben

Emal Yousofi
ايمل يوسفي



# د جرمني ژبې د تورو وينګ

# (د الماني ژبې د حروفو تلفظ)

# Die Aussprache der deutschen Buchstaben

د کتاب په اړه:

د کتاب نوم: د جرمني ژبې د تورو وینګ

لیکوال: ایمل یوسفي (Emal Yousofi)

خپرندوی: ایمل یوسفي (Emal Yousofi)

د خپریدو کال: ۲۰۱۵

# د جرمني ژبې د تورو وينګ

# د جرمني ژبې د حروفو تلفظ

# Die Aussprache der deutschen Buchstaben

| Inhaltsverzeichnis | مخ | سرلیک (فهرست) |
|---|---|---|
| Buchstaben............. | **1** | ................(توري (حروف |
| Alphabet................ | **1** | ..........................الفبې |
| Umlaut (Umlaute)..... | **4** | ..........(اوملاوټ (اوملاوټونه |
| Esszet.................... | **7** | ........................اسځت |
| Vokale.................... | **8** | .......(واولونه (خپلواک غږونه |
| Diphthonge............. | **11** | ........(ډيفتانګونه (غبرګغږونه |
| Konsonanten........... | **15** | ...(کنسوننټونه (بې واک غږونه |
| Buchstaben-verbindungen......... | **32** | .........(د تورو ربطې (تړونونه |

# 1. Buchstaben:

# ۱. توري (حروف):

جرمني ژبه ټول دېرش (۳۰) توري لري: ۲۶ الفبې، درې اوملاوټونه او یو بل د اسځټ په نوم.

## 1.1. Alphabet:

## ۱. ۱. الفبې (ابيځې، الفبأ):

| Alphabet | Aussprache | پښتو تلفظ |
|---|---|---|
| A, a | ah | آ |
| B, b | bay | بې |
| C, c | tsay | څې (تسې) |
| D, d | day | دې |
| E, e | ay | اې |
| F, f | eff | اِف |
| G, g | gay | ګې |
| H, h | hah | ها |
| I, i | ee | اِي |

| | | |
|---|---|---|
| J, j | jot | يوت |
| K, k | kah | کا |
| L, l | ell | اِل |
| M, m | emm | اِم |
| N, n | enn | اِن |
| O, o | oh | اُو |
| P, p | pay | پي |
| Q, q | koo | کو |
| R, r | err | ار |
| S, s | ess | اس |
| T, t | tay | تي |
| U, u | oo | اوو |
| V, v | fow | فو |
| W, w | vay | وي |
| X, x | ex | اکس |
| Y, y | ipsilon | اپسلون |
| Z, z | tset | ثټ(تسټ) |

# 3

- د جرمني ژبې ليکنه په تورو سره کېږي او هر توری په وړه او غټه بڼه ليکل کېږي.
- جرمني الفبې له لاتيني الفبې څخه اخيستل شوې ده.
- د الفبې ويی د يوناني ژبې د لومړنيو دوه تورو " الفا او بېټا" څخه راوتلې اصطلاح ده.
- د جرمني ژبې په توروکې ډېر کارېدونکی توری "e" اوکم کارېدونکی توری "q" دی.
- توري نه بېلېدونکي يونونه (واحدونه) دي.
- د تورو مجموعې ته الفبې وايي.

## 1.2. Umalut (Pl. Umlaute):

## ۱. ۲. اوملاوټ:

جرمني ژبه درې اوملاوټونه لري. دغه توري د همسیاله واولونو چې په سر يې دوه ټکي وليکل شي، منځ ته راځي.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ä | Äpfel | منې (جمع) | Lärm | شور، غالمغال |
| | März | دمارچ میاشت | kämpfen | جنګېدل، جګړه کول |
| ö | Öl | غوړي، تېل | böse | غضبناک، بد، مرور |
| | Geldbörse | بټوه | können | توانېدل، زوررسېدل |
| ü | Übung | آزموینه | Anführer | مشر، رهبر، قاید |
| | amüsant | ساعت تېرونه | abkürzen | لنډول مخفف کول |

## <u>5</u>

۱. ۲. ۱. اوملاوټ په تاریخي ژبپوهنه کـــې د خپلواک غږ بدلون ته وايي، لکه: په لاندې جمله (غونډله) کې چې "u" په "ü" بدلېږي. (دواړه خپلواک غږونه دي).

**1**. Das „**ü**" in „Füße" ist der Umlaut des Vokals „**u**" in „Fuß".

**der Fuß - die Füße**

**پښه - پښې ( د جمع په حالت کې "u" په "ü" بدل شو)**

۱.۲.۱. "äu" یوائینی غبرگغږ دی، چې اوملاوټ پکې راځي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| دودونه، رواجونه(ج.) | Gebräuche | شاوو، زلمی، شاه | Bräutigam |
| بې هوښه کول | betäuben | نوی زېږېدلی ماشوم | Säugling |

۱. ۲. ۳. په هغه نومونو کې چې خپلواک غږونه (a, o, u) وي، له مفرد (یوگړي) څـــخه جمع (ډېرگړي) ته په اوښتو یاد توري په اوملاوټونو بدلېږي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| Knopf | Knöpfe | تنۍ(ګانې)، تکمې | تنۍ، تکمه– |
| Wort | Wörter | لغاتونه، ویې | لغت، ویی– |
| Vogel | Vögel | مرغۍ | مرغه – |
| Zahn | Zähne | غاښونه | غاښ – |

**۱. ۲. ۴. د یادو اوملاوتړونو ځایناستي لاندې توري هم جوړېدای شي.**

**ä=ae / ö=oe / ü=ue**

**1**. Das kleine Kind zählt (zaehlt) das Geld.

**۱. وړوکی ماشوم پیسې (روپۍ) شمېري.**

**2**. Müssen (Muessen) Männer (Maenner) öfter (oefter) sprechen?

**۲. آیا سړي باید (حتماً) اکثراً وغږېږي؟**

**3**. Heute ist der Stadt öde (oede) und leer.

**۳. نن ښار شړ او خالي دی.**

**• یادونه: د "ie" توري غبرګغږ نه دی، یواځــــې دواړه توري په شریکه سره ویل کېږي، لکه: "بینی (مچۍ)Biene".**

## 1.3. Eszett „ß“ (Das Deutsche Eszett):

## ۱.۳. اسځټ:

اسځټ د جرمني ژبې خاص توری دی، چې په تېز اِس"scharfes"s هم يادېږي. اسځت (اسځټ) د ډبل اِس (ss) په څېر تلفظ کېږي.

د اسځټ توری يوازې د اوږدو واولونو (خپلواک غږونو) او ډايفتانګ (غبرګغږونو) څخه وروسته ليکل کېږي. که چېرې د کوم لغت (ويی) ټول توري په غټه بڼه ليکل کېدل، نو بيا د اسځت پرځای ډبل اِس ليکل کېږي، ځکه دغه توری په غټه بڼه نشته. لکه:

| | | |
|---|---|---|
| Straße | STRASSE | سرک، کوځه |
| Fußball | FUSSBALL | فوټبال |

نورې نمونې (بېلګې، مثالونه):

1. Der Strauß soll der größte Vogel sein.

۱. اوښ مرغه د نړۍ تر ټولو غټ مرغه دی.

2. Nach dem Unfall fließt aus einem Auto Benzin auf die Straße.

۲. د ټکر څخه وروسته د يو موټر څخه په سړک تېل روان دي.

## 1.4. Vokal (Selbstlaut) (Vokale; Selbstlaute; Pl.):

### ۱.۴. واول (واولونه، خپلواک غږونه):

په جرمني ژبه کې "a, e, i, o, u" او درې اوملاوټونه "ä, ö, ü" او یو غبرګغږ "äu" خپلواک غږونه دي،چې په اوږد اولنډ ډول ویل کېږي.

### 1.4.1. Lange Vokale:: ۱.۴.۱. اوږده خپلواک غږونه:

په لاندې حالاتو کې یو واول یا خپلواک غږ اوږد ویل کېږي:

- دغه خپلواک غږونه "a, e, o, u" که د "l, r, m, n" تورو څخه وړاندې راغلل، نو د دواړو تر منځ د "h" توری لیکل کېږي او دا یې د اوږدوالي نښه ده:

Lahm, Bahre, dehnen, hohl, Ruhm, Huhn etc.

- د دوه اوږدو خپلواک غږونو (واولونو) ترمنځ چــې یو بې واک غږ راشي:

Leben, gehen, drehen, etc.

- د ډبل خپلواک غږ په راتلو ( د ډبل واول په راتلو):

Aal, Saal, Klee, Fee, Boot, Zoo etc.

یادونه: د"ii, uu" توري یواځې د بهرنیو ژبو څخه پور شوي وییونو کې راځي، لکه: Hawaii, Vakuum etc.

- د "ie" (توري) د اوږد خپلواک غږ نښه ده:

Liebe, Wiese, Dahlie etc.

- د "i" خپلواک غږ اوږدوالی ځيني وخت د"h" يانې "ih, ieh-"
په بڼه هم ښودل کېږي:

ihm, ihn, ihnen, Vieh, fliehen, ziehen etc.

- د دوه بې واک غږونو ترمنځ چې د "h" توری راشي:

*(ah, eh, oh, uh, äh, öh, üh)*

nahen, bejahen, drehen, Darlehen, drohen, Floh (wegen: Flöhe), Kuh (wegen: Kühe), fähig, Krähe, Höhe, früh (wegen: früher) etc.

## 1.4.2. Kurze Vokale: ۱.۴.۲. لنډ خپلواک غږونه:

په لاندې حالاتو کې يو خپلواک غږ لنډ ويل کېږي:

- د لنډ خپلواک غږ څخه وروسته لږ تر لږه دوه بې واک غږونه راځي:

Bu**tt**er, pu**tz**en etc.

- د لنډ خپلواک غږ څخه وروسته تل ډبل بې واک غږونه راځي:

E**bb**e, A**ff**e, schli**mm**, i**mm**er, de**nn**, knu**rr**en etc.

- يادونه: د "kk, zz" پر ځای "ck, tz"ليکل کېږي:

A**ck**er, le**ck**er, Ka**tz**e, Matra**tz**e, Schu**tz** etc.

- **په ځينو حالاتو کې بې واک غږ نه ډبل کېږي،که څه هم خپلواک غږ لنډ وي:**

Bus, Klub, Chip, fit, top, Mob, Job etc.

- **همدارنګې د بهرنيو ژبو لغاتونه چې په "-ik, -it" تورو پای ته رسېدلي وي (نه ډبل کېږي او لنډ ويل کېږي):**

Kritik, Politik, Kredit, Profit etc.

| **lang gesprochene Vokale**<br>**اوږده خپلواک غږونه** | **kurz gesprochene Vokale**<br>**لنډ خپلواک غږونه** |
|---|---|
| „h“ zwischen „a,e,o,u“ und „l,m,n,r“ z.B. lahm etc. | Vokal+Zwei Konsonanten z.B. putzen etc. |
| Vokal+ Konsonant+Vokal Leben, gehen etc. | Vokal+Doppelkonsonant z.B. Affe etc. |
| Doppelvokal z.B. Boot etc. | |
| „ie“ z.B. Liebe etc. | |
| „i“ (-ih, -ieh) z.B. ihn, ihm Ihnen etc. | |
| „h“ zwischen zwei Vokale z.B. drohen etc. | |

## 1.5. Diphthong (Pl. Diphthonge):

## ۱. ۵. ډيفتانګ (غبرګغږ [ډيفتانګونه؛ غبرګغږونه. ج]):

غبرګغږونه(ديفتانګونه) له دوه خپلواک غږونو څخه جوړ شوي وي، لکه په "H*au*s, S*ei*te" لغاتونو کې د "au, ei" غبرګغږونه. جرمني ژبه پنځه غبرګغږونه لري. "ai, au, äu, ei, eu" غبرګغږونه دي.

| | |
|---|---|
| ai | آی |
| au | او |
| äu | اوی |
| ei | آی |
| eu | اوی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ai | Hai | لوی کب | Kaiser | قيصر، پاچا |
| au | Zaun | کتاره، کيږه | saugen | رودل، رووړل |
| äu | Häuser | کورونه (جمع) | Mäuse | موږکان |
| ei | Geige | ويلون | leise | غلی، چپ |
| eu | Eule | ګونګی، بوم | Zeugnis | شهادتنامه |

۱. ۵. ۱. د "äu+eu: ai+ei" غبرگغږونه یو ډول ویل کېږي.

د "äu, ei, eu" غبرګغږونه په هغو لغاتونو کې راځي، چې له آره جرمني وي.

| | | |
|---|---|---|
| Häute* | هویتې | پوستکي (جمع) |
| Heute | هویتې | نن، نن ورځ |
| Bäuche | بویشی | خېټې (جمع) |
| Beuche | بویشی | د ټوکرو لپاره تیزاب |
| Läute | لویتی | غږونه (جمع) |
| Leute | لویتی | خلک |
| Waise | وایزی | یتیم |
| Weise | وایزی | طریقه |
| Laib | لایب | ټیکله، روټ |
| Leib | لایب | جسم، بدن |
| Saite | زایتی | مزی، ژۍ، تار |
| Seite | زایتی | اړخ، خوا، بغل |

*Haut (Sg.) – Häute (Pl.)　　　پوستکی (م.) – پوستکي (ج.)

**۱.۵.۲. د "ai" غبرګغږ په جرمني او بهرنیو ژبو لغاتونو کې راځي.**

**په جرمني ژبې وییونو کې یاد توري په شریکه سره ویل کېږي:**

| | | |
|---|---|---|
| Mai | مای | د مای میاشت |
| Kaiser | کایزه | قیصر |

**په هغو لغاتونو کې چې بهرنۍ ریښه ولري، خو اوس د جرمني ژبې څخه حسابېږي (هم په شریکه سره ویل کېږي):**

| | | |
|---|---|---|
| Taiga | تایګه | تایګا |

**له بهرنیو ژبو څخه پور شوي وییونو کې:**

**په یوناني لغاتونو(وییونو) کې دواړه توري له یو بل څخه بېل ویل کېږي:**

| | | |
|---|---|---|
| Mosaik | موزا ایک | موزاییک |
| naiv | نا ایو | بې تقصیره، عجیب |

**په فرانسوي لغاتونو کې پورته دواړه توري د "e" په څېر ویل کېږي:**

| | | |
|---|---|---|
| Drainage | درېناژی | وچه سیمه |
| Saison | زېزون | موسم، فصل |

### ۱.۵.۳. په جرمني ژبه کې د نورو ژبو غبرګغږونه:

د "ay" غبرګغږ:

| | | |
|---|---|---|
| Spray | شپرې | اسپرې، داره؛ شيندل |

د "oi" غبرګغږ:

| | | |
|---|---|---|
| Broiler | برويله | د وريتولو چورګوړی |

د "ou" غبرګغږ:

| | | |
|---|---|---|
| Patrouille | پتغوليه | ګزمه |
| Ouija | ويجي | ويجا(دجادوګرو تخته) |

د "oy" غبرګغږ:

| | | |
|---|---|---|
| Foyer | فويې | دهلېز، هاسټل |
| oktroyieren | اوکتغوايیغن | يو څوک مجبورکول |

د "ui" غبرګغږ:

| | | |
|---|---|---|
| Pfui | پفوۍ | يو ندايه غږ دی |

## 1.6. Konsonanten (Mitlaute):

### ۱.٦. بې واک غږونه (اصلي توري، کانسونتونه، بې غږه توري):

لاندې توري بې واک غږونه دي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| b | بې | p | پې |
| c | څې | q | کو |
| d | دې | r | اِر |
| f | اِف | s | اِس |
| g | گې | t | تې |
| h | ها | v | فَؤ |
| j | یوت | w | وې |
| k | کا | x | اِکس |
| l | اِل | y | اُپسلون |
| m | اِم | z | څټ |
| n | اِن | | |

**❶ د"b" توری:**

د پښتو ژبې د "ب" توري غږ ورکوي، لکه:

| | | |
|---|---|---|
| Baum | بوم | ونه |
| Baby | بېبي | لالي، وړوکی ماشوم |
| Robbe | روبی | د اوبو سپی |
| Staub | شتوب | دوړه، خاورې |

که چېرې نه پوهېدلئ، چـــې د یو ویي پای (Auslaut) په "b یا p" شوی، د زده کړې او صحي لیکلو لپاره یاد ویی اوږد کړئ.

اوږدونه په دې مانا چې: که نوم وي نو له مفرد څخه دې جمع ته واړول شي او یا دې له یاد نوم څخه کړ جوړ شي، که ستاینوم وي نو درجه دې ورکړل شي او که فعل (کړ) وي نو تصریف (گردان) دې شي او یا دې گردان شوی (اوړول شوی) فعل بېرته خپلې ریښې ته وگرځي. لکه:

| Mit „b oder p" د"b که p" سره | Verlängerung اوږدونه | also یانې (داسې) | ژباړه |
|---|---|---|---|
| Kalb_ | Kälber | Kalb | خوسی |
| Gra_ | Gräber | Grab | قبر، لحد |
| Urlau_ | beurlauben | Urlaub | رخصتي |
| gi_ | geben | gib | ورکړه |

❷ د "C" توری:

**دغه توری په جرمني لغاتونو کـــې یواځې د ترکیب په بڼه راځي، لکه د "ch, chs, ck, sch" ترکیبونوکې او په ځانته توگه یاد توری د "ک س او چ" غږ ورکوي خو دغه ډول لغاتونه ټول له نورو ژبوڅخه اخیستل شوي وي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Pascal | **پاسکال** | **ګام، قدم، تگ** |
| Computer | **کومپیوټر** | **کمپیوټر** |
| Creme | **کرېمی** | **کریم** |
| Balance | **بالانسی** | **انډول، توله، توازُن** |
| Renaissance | **رېنایسانس** | **نوی والی، نشأت** |
| Cembalo | **چېمبلو** | **هارپسیکورد** |
| Boccia | **بوچیا** | **بوچیا (یوه لوبه ده)** |

- **په ځینو لغاتونو کې چې د یوناني ژبې رېښه ولری، د "څ" غږ ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| Celsius | **څېلزیوس** | **د تودوخي درجه** |
| CD | **څې ډې** | **سي ډي** |

❸ د "d" توری:

دغه توری د "د" توري غږ ورکوي، لکه:

| | | |
|---|---|---|
| Dreieck | درای۔ ایک | مثلث، درې څنډې |
| reden | رېدن (غېدن) | غږېدل، ګړېدل |
| Bild | بیلد | انځور، تصویر، عکس |

- د ویی (لغت) په پای۔ کې د یاد توری تلفظ "t" ته ډېر مایل وي:

| | | |
|---|---|---|
| Rad | رات | تیر، ګاړی |
| Bild | بیلت | انځور، تصویر، عکس |

- د دوه واولونو ترمنځ ډبل "dd" لیکل کېږي (په هغه صورت کې چې لومړی واول لنډ وویل شي):

| | | |
|---|---|---|
| addieren | ادیرن | جمع کول |
| Kladde | کلادی | جاذب کاغذ، وچوونی |
| Buddel | بودل | بوتل، پتک |

❹ د "f" توری:

**دغه توری د لغت په پیل، منځ او پای کې د "ف" غږ ورکوي،لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Fenster | **فینسته** | **کړکۍ، ورسۍ** |
| Teufel | **توایفل** | **شیطان، ابلیس، شریر** |
| fünf | **فونف** | **پنځه** |

· **د لنډ واول(خپلواک غږ) څخه وروسته تل ډبل** "ff" **لیکل کېږي:**

| | | |
|---|---|---|
| Affe | **افی** | **بیزو، شادو** |
| Schiff | **شیف** | **بېړۍ، کښتۍ** |

❺ **د "g" توری:**

**دغه توری د "ږ/گ" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| gehen | **گېین** | **تلل** |
| Gang | **گنگ** | **لار، مسیر** |

·**یاد توری د ویي په پای کې د** "k" **په څېر ویل کېږي:**

| | | |
|---|---|---|
| Sarg | **زارک** | **تابوت** |

• د "ig-" توري د لغت په پای کې د "ایش" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| König | کونیش | پاچا، پادشاه، ملک |
| wenig | وینیش | لږ، کم |
| dreckig | درېکیش | چټل، کثیف، ګنده |
| winzig | وینڅیش | ډېر وړوکی، کمکی |
| ledig | لېدیش | مجرد |

❻ د "h" توری:

دغه توری د "ه" غږ ورکوي، لکه:

| | | |
|---|---|---|
| Hut | هوت | خولۍ، ټوپۍ |
| Ahorn | آهورن (آهوغن) | یو ډول ونه ده |

• یاد توری د دوه واولونو ترمنځ چې د څپې بېلېدونکي"h"په نوم یادېږي نه ویل کېږي. (څپه بېلېدونکی ها"Silben trennendes „h)

| | | |
|---|---|---|
| drohen | درو ِان | تهدیدول، ډارول |
| Mühe | موی | زحمت، خواري،محنت |

❼ د "j" توری:

**دغه توری د "ی" یا انګلیسي ژبې د "y" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Junge | یونګ | هلک، ځوان، ژبی |
| Jäger | یېګه | ښکاري |
| Kajak | کایک | قایق، کایک |

- **په هغو لغاتونو کې چې له نورو ژبو څخه پور شوي وي، د پور شوې ژبې په څېر ویل کېږي:**

**په فرانسوي لغاتونو کې:**

| | | |
|---|---|---|
| Jackett | ژاکت | کورتۍ، جاکټ |
| Jeton | ژیتون | سمبول، نښه |

**په انګلیسي لغاتونو کې:**

| | | |
|---|---|---|
| Joint | جواینت | جوینت، سیګرټې |
| Jury | جوري | داور، منصفه هیأت |

❽ د "k" توری:

**دغه توری د پښتو ژبې د "ک" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Kiste | **کیستی** | **صندوق، بکس** |
| lenken | **لینکن** | **یوول، رهبري کول** |
| Kajak | **کایک** | **قایق** |

❾ د "l(L)" توری:

**دغه توری د "ل" توري غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Land | **لند** | **ځمکه، ټاټوبی، هېواد** |
| kalt | **کالت** | **یخ** |

❿ د "m" توری:

**دغه توری د "م" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Mutter | **مُوته** | **مور** |
| kämpfen | **کېمپفن** | **جنګېدل، جګړه کول** |
| Grammatik | **ګراماتیک** | **ګرامر، ژبښود** |

## ❶❶ د "n" توری:

**دغه توری د "ن" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Name | نامې | نوم، اسم |
| nun | نُون | اوس، فعلاً |

## ❶❷ د"p" توری:

**دغه توری د "پ" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Park | پارک | پارک، دسیاحت پارک |
| Opa | اوپه | بابا، نیکه |
| Opposition | اوپوزیڅیون | مخالف، متضاده ډله |

## ❶❸ د "q" توری:

**دغه توری د "کو" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Qualm | کوالم | لوګی، دود |
| Frequenz | فرېکوینڅ | څپه، فرېکویسني |
| Qualität | کوالیتېت | جنسیت، ښرنګوالی |

**❹❶ د "r" توری:**

**دغه توری د "ر/غ" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| کارغه | رابی (غابی) | Rabe |
| غر | بېرگ (بېغگ) | Berg |
| سهار | مُورگین (موغگین) | Morgen |

**• د "r" توری په جرمني کې د "غ او ر" په څېر ویل کېږي، ځوانه طبقه "غ" ته ترجیح ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| څنگل، څیگل | آرم (آغم) | Arm |

**• د "er" توري د لغت په پای کې د "ه یا a" توري په څېر ویل کېږي:**

| | | |
|---|---|---|
| لنگر | انکه | Anker |
| ورور | بغوده (برووده) | Bruder |

**• د "ur" توري د لغت په پای کې د " اوه" په څېر ویل کېږي:**

| | | |
|---|---|---|
| کلتور، فرهنگ، عنعنه | کُلْتُوه | Kultur |
| بکلوریا | ابیتوه | Abitur |

❶❺ د"S" توری:

**دغه توری د "ز او س" غږ ورکوي، لکه:**

- **د لغت په پیل کې د "ز" غږ ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| Saal | زال | تالار، سالون |
| sagen | زاگن | ویل |
| singen | زینگن | سندرې ویل |
| Sonne | زونی | لمر، نور |
| suchen | زوخن | پلټل، کتل |

- **د دوه خپلواک غږونو تر منځ د "ز" غږ ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| reisen | رایزن (غایزن) | سفر کول |
| lesen | لېزن | لوستل |

- **د "l(L), m, n, r" تورو څخه وروسته د " ز" غږ ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| Amsel | امزل | ښارو، مینا، ښارونې |
| Transit | تغانزیت | د تېرېدو اجازه |

• د "‎-sam, -sal, -sel, -einsam‎" وروستاړو کې تل د "ز" غږ ورکوي (د "ز" په څېر ویل کېږي):

| | | |
|---|---|---|
| einsam | آینزم | ځانته، یواځې |
| Schicksal | شیکزال | تقدیر، قسمت، نصیب |
| Rätsel | رېتزل (غیتزل) | معما، کیسۍ، اسرار |

• د لغت په پای کې د "س" غږ ورکوي (د "س" په څېر ویل کېږي):

| | | |
|---|---|---|
| Glas | گلاس | گیلاس، پیاله؛ شیشه |
| Bus | بوس | بس |

• د لغت په منځ کې د کنسوننټ (بې واک غږ) څخه مخکې او وروسته د "س" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Wespe | ویزپي | مچۍ، غالبوزه، ډنډاره |
| Weste | ویستي | واسکټ، سدرۍ |
| Erbse | ایغبسي | نخود، دال |
| Ochse | اوکسي | غویی، غوايي |

**❶❻ د "t" توری:**

**دغه توری د "ت" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Tinte | **تینتی** | **د قلم رنګ، مشوانۍ** |
| Garten | **ګارتن** | **بڼ، باغ** |
| Subjekt | **زوبیکت** | **مضمون، فاعل** |
| Butter | **بوته** | **کوچ** |

**۰ د "t" توری د "d" توري څخه وروسته نه ویل کېږي (dt-):**

| | | |
|---|---|---|
| Verwandt | **فېروانت** | **خپل، خپلوان، خپښ** |
| gewandt | **ګېوانت** | **ماهر، رسېدلی** |

**❶❼ د "u" توری:**

**دغه توری د "او/ و" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Ufer | **اوفه** | **ساحل، څنډه، غاړه** |
| Uhr | **اوه** | **ساعت، ګړۍ** |
| Durst | **دوغست** | **تنده** |

**❽❶ د "V" توری:**

**دغه توری د "ف" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Vater | **فاته** | **پلار** |
| Volk | **فولک** | **اولس، خلک، ملت** |
| verstehen | **فېرشتېین(فېغشتېین)** | **پوهېدل** |
| Passiv | **پاسیف** | **مثبت؛ مفعول، بېکاره** |
| Detektiv | **دېتیکتیف** | **مخفي پولیس** |
| nervlich | **نېغفلیش** | **ناکراره، ناړام** |
| Lärvchen | **لېغفشن** | **ښکلی صورت** |

- **د بهرنیو ژبو څخه پور شوي لغاتونو کې د "و" غږ ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| Video | **ودیو** | **ویډیو** |
| Visum | **ویزوم** | **ویزه** |
| Virus | **ویروس** | **وایرس** |
| Vase | **وازی** | **ګلدانۍ** |

### ❶❾ د "w" توری:

**دغه توری د "و" یا د انګلیسي ژبې د "v" توري غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| zwei | څوای | دوه |
| waschen | واشن | وینځل، پرېمینځل |

### ❷⓿ د "x" توری:

**دغه توری د "کس یا ks" تورو غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Axt | اکست | تبرګی، تبر، ساتول |
| Hexe | هېکسې | جادوګره ښځه |
| Syntax | سونتکس | غونډله پوهه، نحوه |

### ❷❶ د "y" توری:

**دغه توری د "ی" غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Yoga | یوګا | جوګ، ذهني ریاضت |
| Handy | هېنډي | موبایل، لاسي تیلیفون |

- **یواځې د بهرنیو ژبو په لغاتونو (وییونو) کې دغه توری لیکل کېږي:**

- یاد توری د ویي په منځ کې ډېری وخت د "او" په څېر ویل کېږي:

| | | |
|---|---|---|
| Typhus | توفوس | توره تبه،محرقه،وچکۍ |
| Asyl | ازول | پناه |
| Mythos | موتوس | افسانه، مواسه |
| Sympathie | زومپاتي | علاقه، مینه، پلوي |

- د لغاتونو په پای‌کې د "i" په څېر ویل کېږي:

| | | |
|---|---|---|
| Baby | بېبي | وړوکی ماشوم |
| Story | ستوري (ستوغي) | قیصه، کیسه، حکایت |
| Party | پارتي (پاغتي) | مېلمستیا، بنډار |
| Hobby | هوبي | شوقي کار، ذوق |

- په ځینو نورو لغاتونو کې د "آی، اوی او یا د ai" تورو په څېر ویل کېږي:
  - آی لکه: اِسای Essay ؛ اوی لکه: کوباُی cowboy؛
  - د "ai" تورو لکه: نایلون Nylon؛ ستایلن stylen؛

**❷❷ د "z" توری:**

**دغه توری د پښتو ژبې د "څ" یا د "ts" تورو غږ ورکوي، لکه:**

| | | |
|---|---|---|
| Zimmer | **څیمه** | **کوټه، اطاق** |
| Brezel | **برېڅل** | **پرتزل،غوټه شوې ډوډۍ** |
| Weizen | **وایڅن** | **غنم** |

**·د"tz" توري د "ts" غږ ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| Blitz | **بلیتس** | **برېښنا، برق، بجلۍ** |
| Hitze | **هیتسی** | **گرمي، تودوخه؛ تاو** |

**· د بهرنیو ژبو په ځانگړې توگه له انگلیسي ژبې څخه پور شوي لغاتونو کې د "ز یا انگلیسي ژبې z" په څېر ویل کېږي:**

| | | |
|---|---|---|
| Zero | **زیرو** | **صفر** |
| zoomen | **زومن** | **غټ کول، لویول** |
| Puzzle | **پَزل** | **موخۍ، کیسۍ، معما** |
| Blizzard | **بلیزارد** | **د واورې توپان، بادوړه** |

## 1.7. Buchstabenverbindungen:

### ۱.۷. د تورو ربطې (تړونونه، ترکيبونه، وصلونه):

| KS. | پښتو انډول | KS. | پښتو انډول |
|---|---|---|---|
| ch | خ، ش، ک، چ | rh | ر |
| chs | اکس، کس | sch | ش |
| ck | ک | sp | شپ |
| dh | د | st | شت |
| dsch | ج | th | ت |
| dt | ت | tia | څيا، تسيا |
| gh | ږ، گ | tial | څيال، تسيال |
| ieren | اِيرن | tion | څيون |
| ig | ايس | tsch | چ |
| ion | اِون | wh | و |
| kh | ک | zial | څيال |
| pf | پف | ziell | څيل |
| ph | ف | zsch | چ |

① د "ch" توري یا ترکیب:

دغه توري په جرمني لغاتونو (وییونو)کې د "خ او ش" غږونه ورکوي،چې د "اخ لَوْت Ach-Laut او ایش لَوْت Ich-Laut" په نوم یادیږي.

د "خ" غږ (Ach-Laut):

د"ch" توري وروسته له (a, o, u, au) توروڅخه د "خ" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Dach | دخ | بام، بلې |
| Nacht | ناخت | شپه |
| machen | ماخن | کول |
| Schmach | شماخ | رسوایي |
| Loch | لوخ | سوری |
| Tochter | توخته | لُور |
| Buch | بوخ | کتاب |
| Tuch | توخ | ټوکر،لاس/ځان وچونی |
| Bauch | بَوْخ | خېټه |
| tauchen | تَوْخن | غوټه وهل، ډوبېدل |
| rauchen | غوخن | سګرټ څکل |

د "ش" غږ Ich-Laut:

د ch توري وروسته د(e, i, ie, ä, ö, ü, ei,eu, äu,l, n, r)

تورو څخه د " ش" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Zeche | څېشي | د سکرو کان |
| Blech | بلېش | حلبي، د اوسپنې ټوټه |
| sprechen | شپرېشن | خبرې کول، غږېدل |
| ich | ايش | زه، ما |
| Gesicht | ګېزيشت | مخ، ونګی |
| verzichten | فېرڅيشتن | د يو شي څخه تېرېدل |
| riechen | غيشن | بوی کول |
| kriechen | کغيشن | خاپوړې کول |
| Fläche | فليشي | مساحت |
| lächeln | لېشلن | موسکېدل، تبسم کول |
| Köcher | کوشه | پخوونکي، آشپزان |
| Löcher | لوشه | سورې (جمع) |
| köcheln | کوشلن | خوټېدل، ايشېدل |

| | | |
|---|---|---|
| Gerücht | گېغوشت | آوازه، ، شايعه، انگازه |
| Tücher | توشه | ټوکرې، ټوکران |
| Süchtig | زوشتيش | معتاد، روږدی |
| nüchtern | نوشتغن | په ورږې خېټه |
| zeichnen | څايشنن | رسمول، انځورول |
| Teich | تايش | ډنډ، حوض |
| Seuche | زويشی | ساري نارغي |
| leuchten | لويشتن | رڼول، روښانول |
| euch | اويش | تاسو ته |
| Bäuche | بويشی | خېټې (جمع) |
| Sträucher | شتغويشی | بوټي، خس وخاشاک |
| Dolch | دولش | چاړه، خنجر |
| Milch | ميلش | شېدې، پی، شوده |
| Mönch | مونش | راهب، بامبڼ، ترسا |
| Bronchitis | بغونشيتيس | برونشيت (ناروغي) |

| | | |
|---|---|---|
| Fenchel | **فینشل** | **بارتنگ، خواږه ولني** |
| durch | **دوغش** | **په منځ، تر، په وسیله** |
| Arche | **آغشی** | **د نوح** علیه سلام **بېړۍ** |
| Furcht | **فوغشت** | **ډار، وېره، وهم، ترهه** |

- **یاد توري د** -lich, -chen **وروستاړو کـــې تل د "لیش او شِن" غږ ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| eigentlich | **آیگینتلیش** | **په واقعیت کې؛ اخیراً** |
| plötzlich | **پلوتسلیش** | **ناڅاپه** |
| Brötchen | **بروتشن (بغوتشن)** | **وړه ډوډۍ** |
| Stückchen | **شتوکشن** | **کوچنۍ ټوټه، وړه** |

- **د** "ch" **توري په پورشوي لغاتونو کې په ځانګړي توګه په هغو لغاتونو کې چې یوناني ریښه ولري، د "ش" غږ ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| Chemie | شېمي | کیمیا |
| China | شینا | چین |
| Echo | اېشو | انګۍ، انګازه |
| Orchidee | اوغشیدې | رنې، رونه |
| Psyche | پزوشي | روح، ساه، ذهن، روان |
| Oligarchie | اولیګاغشي | د څو تنو واکمني |
| Chirurgie | شیغوغګي | جراحي |
| Mechanik | میشانیک | میخانیک |
| Monarchie | موناغشي | پاچاهي، ټولواکي |

· د "ch" توري په ځینو پور شوي لغاتونو کــې مخکې له "a, o, u" تورو څخه د خ غږ ورکوي (د خ په څېر ویل کېږي):

| | | |
|---|---|---|
| Almanach | المانخ | تقویم، جنتري |
| Achilles | اخیلیس | آشیل(د یونان یوقهرمان) |
| Baldachin | بَلْداخین | سایوان، امبالۍ |
| Brachial | براخیال | ځاروي صفتی سړی |

| | | |
|---|---|---|
| Epoche | اپیوخی | عصر، زمان، دوران |
| Autochthon | اوتوختون | وطني |
| Rochen | غُوخن (روخن) | مکړی (یو ډول کب) |
| Moloch | مولوخ | یو ډول ځرمخکۍ ده |
| Chuzpe | خوزپی | بې حیایي، بې شرمي |
| Eunuch | اوینوخ | خسي، هجړا |

• د"ch" توري په ځینو یوناني لغاتونو (هغه لغاتونه چې له آره یوناني وي خو اوس په جرمني ژبه کې کارول کېږي، لکه په پښتو کې چې عربي لغاتونه کارول کېږي)په پیل کې او همدرانگې له ایتالوي څخه پورشوي لغاتونو او جرمني ژبې خاص نومونو (ځانگړي نومونو) کې د "ک یا k" غږ ورکوي.

| | | |
|---|---|---|
| Chamäleon | کامېلیون | کربوړی، کمیلیون |
| Chaos | کاؤس | گډوډي، بې نظمي |
| Charakter | کَرکُته | کرکتر، خوی، عادت |
| Chlorid | کلورید | کلورایډ، مالگه |

| | | |
|---|---|---|
| Cholesterin | كوليسترين | كلسترول، غوړ |
| Cholera | كولېرا (كولېغا) | كولرا، نس خوږی |
| Orchester | اورکېسته | د موزيک ډلګۍ |
| Melancholie | مېلانكولي | ماليخوليا، سودايي |
| Chemnitz | كيمنيتس | په جرمني کې دښار نوم |
| Chiemsee | كيمزې | د يوې بحيرې نوم |
| Christian | كريستيان | كريستيان (نوم) |

• د "ch" توري له فرانسوي ژبې څخه پور شوي لغاتونو کې د "**ش**" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Chance | شانسی | چانس |
| Charme | شغمی (شرمی) | شرم، نزاکت، جذابيت |
| Chef | شيف | رئيس، مشر، آمر |
| Chicoree | شيکوغي (شيکوري) | تريخه، كاسنی، شمکی |
| Chauvinismus | شوُوينيزموس | شوفينيه؛ هېواد پالنه |
| Chiffre | شيفغې (شيفرې) | عدد، رقم |

| | | |
|---|---|---|
| Branche | بغانشی (برانشی) | بخش، رشته، شعبه |
| Attache | اتاشی | د سفارت هیأت |
| Revanche | غېوانشی (رېوانشی) | غچ، قصد، بدل |
| tranchieren | تغانشیغن (ترانشیرن) | پرېکول، غوڅول |

- د "ch" توري له هسپانیوي او فرنسوي ژبې په لغاتونو کې د "چ" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Champion | چمپیون | اتل، پهلوان، مبارز |
| Couch | کوچ | کَوْچ، نیمه تخت |
| Sandwich | سَندویچ | سینډویچ |
| checken | چیکِن | چک کول، کنترولول |

- په اصلي جرمني ژبې لغاتونو(ویيونو) کې:

| | |
|---|---|
| Nach: a, o, u, au | وروسته له دغو تورو د "خ" غږ ورکوي |
| Nach: e, i, ie, ä,ö, ü, ei,eu, äu,l,n,r | وروسته له دغو تورو د" ش" غږ ورکړي |

- او د بهرنیو ژبو لغاتونو کـــې چې اوس په جرمني ژبې کې هم کارول کېږي، بیا د "ش، خ، ک او چ" غږونه ورکوي.

② د"chs" توري:

**دغه توري د "کس / اکس یا x" غږ ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| sechs | **زیکس** | **شپږ** |
| wachsen | **وکسن** | **غټېدل** |
| Lachs | **لکس** | **د یو کب نوم دی** |
| Hachse | **هکسی** | **د سخوندر یا خوګ پښه** |
| Dachs | **دکس** | **تورلمی، ګورکبش** |

③ د "ck" توري:

**دغه توري د "ک" غږ ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| Wecker | **ویکه** | **زنګي ساعت** |
| Blick | **بلیک** | **نظر، لیدنه، لید، کتنه** |
| backen | **بَکن** | **پخول** |
| ruckeln | **غوکلن (روکلن)** | **ټکان ورکول، ښورول** |
| zockeln | **څوکلن** | **خوشی ګرځېدل** |

④ د "dh" توري:

**دغه توري د "د" غږ ورکوي (د "h" توری نه تلفظ کېږي، یانــــې حذف کېږي):**

| | | |
|---|---|---|
| Dharma | **دارما** | **دهرما، د نړۍ نظام** |
| Dhaka | **داکا** | **داکا (پلازمینه)** |

⑤ د "dsch" توري:

**دغه توري د "ج" غږ ورکوي، خو ډېر لږ کارول کېږي:**

| | | |
|---|---|---|
| Dschungel | **جونګل** | **ځنګل** |
| Dschinn | **جین** | **جن، پېری** |
| Dschibuti | **جیبوتي** | **جیبوتي (هېواد)** |

⑥ د "dt" توري:

**دغه توري د "ت" غږ ورکوي (د "d" حرف حذف کېږي):**

| | | |
|---|---|---|
| Stadt | **شتات** | **ښار** |
| Gesandter | **ګېزنته** | **استازی، پلاوی، رسول** |

⑦ د "gh" توري:

دغه توري د "ږ"غږ ورکوي (ډېری وخت د پښتو "غ" ځایناستی جوړېږي):

په اصلي جرمني ژبې لغاتونو کې نه راځي:

| | | |
|---|---|---|
| Ghetto | گېټو | گېټو |
| Joghurt | یوگورت | ماسته |
| Spaghetti | شپگتي | آش، میاچي |
| Ghazni | گزني | غزني |
| Ghazali | گزالي | غزالي |
| Ghaziabad | گازي اباد | غازي آباد |
| Ghana | گانا | گانا |
| Ghor | گور | غور |

- په انگلیسي لغاتونو کې نه تلفظ کېږي:

| | | |
|---|---|---|
| night | نایت | شپه |
| light | لایت | رڼا، روښنایي |

⑧ د "-ieren" توري:

**دغه توري د "ایرن" غږ ورکوي او تل د فعل (کړ) په پای کې راځي:**

| | | |
|---|---|---|
| konjugieren | **کون یوگیرن** | **گردان کول، اوړول** |
| absolvieren | **ابزولویرن** | **فارغ التحصیل کېدل** |
| diffamieren | **دیفامیرن** | **تورلگول، تهمت لگول** |

⑨ د "-ig" توري:

**دغه توري د "ایش" غږ ورکوي (د "ایش" په څېر ویل کېږي):**

| | | |
|---|---|---|
| richtig | **غیشتیش (ریشتیش)** | **صحي، واقعي** |
| wichtig | **ویشتیش** | **مهم، ضروري** |
| traurig | **تغوغیش (ترووریش)** | **غمژن، خواشینی** |

⑩ د "-ion" توري:

**دغه توري د "اِاُن" غږ ورکوي:**

| | | |
|---|---|---|
| Aversion | **اویغزیون** | **د یوچا نه بد راتلنه** |
| Dimension | **دیمینزیون** | **بُعد** |

①① د "kh" توري:

دغه توري د "ک" غږ ورکوي (اکثراً د "خ" لپاره راځي):

| | | |
|---|---|---|
| Khan | خان | خان، ملک |
| Khmer | کمر | کمبوديا، کمبوجيا |
| Khalid | کاليد | خالد |

①② د "pf" توري:

دغه توري د "پف" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Pferd | پفېغد (پفېرد) | اسپ |
| Kopf | کوپف | سر |

①③ د "ph" توري:

دغه توري د "ف" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Phantasie | فانتازي | خيال، تصور، خيال پلو |
| Strophe | شتغوفی (شتروفی) | نيمکۍ، مصرع، بيت |
| Paragraph | پاغاگغاف (پاراگراف) | ماده (قانون)، فقره |

④① د "rh" توري:

دغه توري د "ر" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Rhein | راین (غاین) | د راین سیند |
| Rhetorik | رېتوریک (غیتوغیک) | بلاغت، معاني |
| Rhythmus | روتموس (غوتموس) | وزن، ټال، سجع، ریتم |

⑤① د "sch" توري:

دغه توري د "ش" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| schlaffen | شلافن | بیده کېدل، ویده کېدل |
| Schnee | شنې | واوره |

⑥① د "sp" توري:

دغه توري د "شپ" غږ ورکوي، (د لغت او څپې په پیل کې):

| | | |
|---|---|---|
| Spinne | شپینې | غڼه |
| sprechen | شپرېشن | خبرې کول |
| spielen | شپیلن | لوبې کول |

⑦① د "st" توري:

دغه توري د "شت" غږ ورکوي، (د لغت او څپې په پيل کې):

| | | |
|---|---|---|
| Straße | شتراسې | سړک، کوڅه |
| Stunde | شتوندې | ساعت، ګړۍ |
| steigen | شتايګن | ختل، اوچتېدل |

⑧① د "th" توري:

دغه توري د "ت" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Apotheke | اپوتېکِ | درملتون |
| Thema | تېما | موضوع، باب، مطلب |
| Mathematik | ماتېماتيک | رياضي |
| Theater | تې آته | تياتر |

⑨① د "tia" توري:

دغه توري د "تسيا" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Initiative | اِنيتسياتيو | ابتکار، نوښت |

②⓪ د "tion" توري:

دغه توري د "ښيون" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Emotion | ايموښيون | احساس، وُجد |
| Aktion | اکښيون | عمل، کړنه |
| Nation | ناښيون | ملت، اولس، قام |

②① د "tsch" توري:

دغه توري د "چ" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Deutschland | دويچلند | جرمني، المان |
| Dolmetscher | دولمېچه | ژباړن، ترجمان |
| Peitsche | پايچې | متروکه، قمچينه |

②② د "wh" توري:

دغه توري د "و" غږ ورکوي (د "h" توری نه تلفظ کېږي):

د نورو ژبو څخه پور شوي لغاتونو کې راځي:

| | | |
|---|---|---|
| Whirlpool | ويرل پول | غولی، ګرداو |
| Whist | ويست | د پتو يوه لوبه |

③② د "zial" توري:

دغه توري د "ځِيال" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Potenzial | پوتېنځيال | استعداد، پټ قوت |
| Differenzial | دېفېغېنځيال | تشخيصوونکی |

④② د "ziell" توري:

دغه توري د "ځيل" غږ ورکوي:

| | | |
|---|---|---|
| Substanziell | سوبستانځيل | اساسي، مهم، معتبر |
| essenziell | ايسينځيل | ضروري، حتمي، لازمي |

د نوي ليکدود Rechtschreibung په اساس د "-tial,tiell"
وروستاړي اوس په "-zial, ziell" ليکل کېږي:

| Alte Schreibweise<br>زوړ ليکدود (د ليکلو زړه طريقه) | Neue Schreibweise<br>نوی ليکدود (د ليکلو نوې طريقه) |
|---|---|
| Potential | Potenzial |
| Differential | Differenzial |
| Substantiell | Substanziell |

⑤② د "zsch" توري:

**دغه توري د "چ" غږ ورکوي، خو ډېر لږ کارول کېږي:**

| | | |
|---|---|---|
| **د يو ځای نوم** | **چېربين** | Zscherben |
| **يو فاميلي نوم (تخلص)** | **چيپی** | Zschäpe |